

ناول
Ketabton.com
د باروتو احرام
(د استشهادي مجاهد د ژوند حیرانوونکې کیسه)
محمد رحیم "پرور کوچی"

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

♥ په دين او هيواد مينو هغه ميړنيو شاه زلمو ته چې خپلې دنګې ځوانۍ يې د اور سرو لمبو ته ونيوې.

♥ او د هغه ګمنامه مجاهدينو پنوم چې د يوې مړۍ ډوډۍ د پيداکولو لپاره اوس هم حيران پاتې دي او د پوښتنې يې څوک نشته.

م. پرور کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم :د باروتو احرام**

**لیکوال :محمد رحیم " پرور کوچی"**

**فسبوک پاڼه:parwar kochai**

**د لیکوال د تلفن شمېره:۰۷۸۷۴۳۱۱۳۶**

**کمپوز او ایډیټ :خپله لیکوال**

**د پښتۍ ډیزاین :موسی تعبیر**

**د چاپ کال : ۱۴۰۲ ه،ل**

**د چاپ وار :لومړی**

**دخپرندوی : فریدیه خپرندویه ټولنه**

**د چاپ حقوق له لیکوال سره محفوظ دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)

د سراچه ډوله موټر غرا خته د سړک په ژۍ بوتې او ډبرې په تیزۍ سره تیریدل سورلۍ رډ رډ وروکتل لرې د سړک په سر د ملي اردو عسکرو تالاشي کوله عمر موټروان ته وارخطا وویل:

استاده ځنګ ته ودریږه!

موټروان په پاسینۍ ښیښه کې برګ،برګ وروکتل

ولې؟ ته خو خوست ته تلې

عمر سړه ساه واخیسته.

بلې استاده! خوست ته تلم خو په لاره یو مهم شی رانه پاتې دي.

لدې سره موټر ځای په ځای ودرید عمر په تیزۍ دروازه خلاصه کړه بیک او چانټه یې غاړې ته واچول په لاندې راوتلې شیله ورښکته شو.

ډبرې او شګې ښوییدې عمر ګړندي ګامونه اخیستل په مخامخ غونډۍ وروخوت د غونډۍ په سر یې یوې او بلې خواته وکتل پاس د غره په سر خړې بوجۍ ولاړې وې،په پیره دار خانه کې ولاړ عسکر لاسونه ښورول د ودرېدو اشاره یې کوله عمر نورهم تېز شو له هاخوا ټکارۍ شو دوې درې مرمۍ د عمر ترځنګ ولګیدې،عمرځای په ځای کښیناست مرمۍ راډیرې شوې عمر پړمخې پریووت په ورانه کې یې نرۍ درد حس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ،دی یوې راوتلې ډبرې ته وروښوييد بیګ او چانټه يې پورته پآتې شول بيرته يې لاس وراوږد کړ بيک او چانټه يې راواخيستل.

مرمۍ لکه د ږلۍ څاڅکي راوريدې عمر ددعا لاسونه پورته کړل.

خدايه! ته مې هدف ته ورسوه.

لويه ربه (ج)! ته راسره مل شه ارمان مې راپوره که...

لنډه شيبه ووته ،لدې سره مرمۍ لږ کمې شوې پورته يې وکتل حيران شو،لرې دوه عسکر را روان وو ده په تيزۍ بيګ او چانټه غاړې ته کړل مخامخ په راوتلو ډبرو کې يې منډه واخيسته عسکرو بيا ډزې پيل کړې پوچ او سپک يې ويل زوروري ناري يې وهلې.

ودريږه! چې له ځايه ونه خوځې

ژوندی دې نه پريږدو

عمر همداسې منډې وهلې لرې ولاړ پورته يې راوکتل عسکر دده په ځای ولاړ وو يوې او بلې خواته يې لاسونه خوځول لاندې شېلو ته يې د ټوپکو خولې نيولې وې.

چې لږه کراري شوه عمر بياله ځايه وخوځيد ښه شيبه مزل يې وکړ ،لاندې په لرې دښته کې څو خړ کورونه ولاړ ول عمر مخامخ کورونو ته ور روان وو په لنډه شيبه کې يې د يو کور لرګينه دروازه وروټکوله له دننه ښځينه غږ راغی.

څوک يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر وستمېد خوله يې خبرو ته جوړه کړه

موريې تږی يم مسافر يم له غره نه عسکرو پسې رااخيستی يم لږ اوبه که راوړې.

دروازه نيمکښه شوه د سره تيکري پيڅکه تر دروازې راووته عمر شا وراړولې وه ښځينه غږ د عمر غوږونه بيا ولړزول.

وروره! موږ کور کې څاه نلرو،کور کې څوک نشته ميږه مې کار ته تللی دلته امنيت خراب دی لدې ځايه ولاړ شه موږ ته غم مه جوړوه.

عمر سوړ اسويلی وکيښ ته به وايې د څو ورځو بې خوبه دی،لږ مخکې لاړ په مړاوو قدمو د بلې کوښې کلا لويې دروازې ته ودريد.

عمر وړه نجلۍ راوغوښته د افغانيو پنځه ګون يې ورته ونيو.

وړې نجلۍ کورته منډه واخيسته نيغه په دروازه ننوته لږه شيبه وروسته د يوې پلاستيکي کوزړۍ او يو ښيښنه يي ګيلاس سره د ده ترمخ ودريده.

عمر سلامته کوزړی په سر واړوله تتر يې څوځايه لوند شو دسمال يې له جيبه راوويست په سينه يې راتېر کړ،په سپينو خامکو جوړه غاړه يې لمرته وځليده الحمد الله يې وويل کوزړۍ يې وړې نجلۍ ته ورکړه په تندي يې ښکل کړه خپله وريره يې نيغه سترګوته ودريده له ځايه پورته شو له جوماته د آذان غږ راته مخامخ لاړ شيبه وروسته يې په جومات کې ډډه ووهله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)

عمر د جومات د امام په ترپي راويښ شو په ځای کې راکښيناست ملا امام د سهار د لمانځه لپاره آذان وکړ بيرته راغی ده ته يې د سترګي مشې لپاره دواړه لاسونه ونيول عمر له ځايه پاڅيد ملا امام ته يې ټينګه غيږه ورکړه ملا امام يې ترڅنګ کښيناست په مسکا يې وويل:

شپه دې ښنګه وه؟

ساړه خو به دې نه وي شوي؟

عمر په پسته ږيره لاس راتير کړ.

نه! خدای(ج) دې اجرونه درکړي جومات ښه ګرم وو.

ملا امام پلتۍ ووهلې اووې پوښتل:

پوښتنه خو بده نده؟

دی موسکی شو

نه! مهرباني مولوي صاحب

ـ د کوم ځای يې؟

عمر لنډ ځواب ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وردګو د سیدآباد

ـ چیرته روان یې له خیره؟

ـ خوست ته

ملا امام مسک شو

دوکانداري کوې که .....؟

عمر یې خبره ور پرې کړه

نه مولوي صاحب ! مدرسې ته ځم دیني درسونه وایم

د ملا امام تندی وغوړید او وې پوښتل:

ماشاالله قاري صاحب!

وار له واره یې بیا وپوښتل:

موټروان ته دې ویلي؟

عمر سوړ اسویلی وویست

نه څوک نه پیژنم دامې لومړی ځل دی دې سیمې ته راځم

ملا امام مبایل له جیبه راوویست

ته صبر! حشمت الله ته زنګ ووهم

له ځایه پاڅید د کړکۍ خواته لاړ مبایل یې غوږ ته ونیو له مقابل لوري کوم ځواب رانغی بیایې ور اوکې کړ ملا امام دا ځل سلام واچوه له مقابل لوري خپ راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعلیکم والسلام

ملا امام غاړه تازه کړه

وبخښه لکه چې ویده وې

حشمت وخندل

خدای مو وبخښه امر کوه مولوي صاحب!

ملا امام وپوښتل

خوست ته ځې؟

حشمت وپوښتل

هو ځنګه؟

ملا امام لیاړې تیرې کړې

د یو کس ځای پریږده

حشمت وخندید

بیا دې لکه چې هوا کړې

ملا امام یې خبره ونیوله په غوسه یې وویل:

نه لیونیه ! زه خو پرون راغلم یو میلمه دی راسره چې هغه یوسې.

حشمت وخندل

سمه ده مولوي صیب ورته ووایه ځان تیاروه لږ وروسته در وځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سمه ده خدای پامان

تلفن یې قطع کړ

ملا امام عمر ته وکتل

پاڅه قاري ګله !اودس تازه کړه چې موټر راځي

عمر هوار کړی توس او بالښت سره وپیچل.

(۳)

د غرمې لس بجې وې سراچه موټر په تیزۍ روان وو په پاخه پل تیر شو کوچنی بازار راورسید د ختینو دوکانونو ترمخ په لرګینو او پلاستیکي ټوکریو کې ډول ، ډول وچې او تازه میوې ایښې وې له شاتیني سیټ یوه بوډا ناره کړه:

استاده ګله ! د ګردې خیرۍ د بازار په آخر سر کې یو بریک ووهه.

موټروان د یو ختین هوټل ترمخ ودرید په پاسینۍ هنداره کې یې وکتل:

همدا ځای ښه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا دروازه خلاصه کړه

هو! بیخي برابر دی

بیا یې  د موټر له ډالي پنډه وروا خیسته

درې سره رنګه د کلدارو سلګون نوټونه یې د موټروان په لمن کې ور واچول.

عمر شاوخوا وکتل پاس په غره کې دځیریو او نښتر ونې باد یوې خواته رپولې وړی وو بیک ته یې لاس کړ بیګانی وچه ډوډۍ یې راوویسته غټه مړۍ یې وکړه.

موټر په تېزۍ حرکت وکړ مخامخ یې وکتل سترګې یې رډې راوختې د ګردې ځیرۍ ولسوالی په مخ کې ولاړې تالاشی ته ګڼ موټر کتار ور روان ول ده غوښتل یوځل بیا له موټره ښکته شي خو شاوخوا په عسکرو پوښلې غونډۍ او لاندې ژور خوړ د تیښتې لاره ور باندې ورکه کړه کلیمې او درودونه یې په ځان چف کړل په یوه شیبه کې یې موټر دبریټور عسکر ترمخ ودرید.

عمر لړزې اخیستی وو وارخطا ښکاریده که عسکرپوښتنه ترې کړې وای چې له کومه ځایه راغلې؟ ده ځواب نه درلود ځکه د راغلې سیمې نوم یې نه وو زده.

عسکر له موټر ګرد راوګرځید کله چې ډالې ته ودرېد نو موټروان عمر ته خوله ورنږدې کړه.

ـ که عسکر وویل له کومه ځایه راغلې ؟ ورته ووایه د غلګی له سیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمر دمه يوڅه جوړه شوه.

له شالخوا د عسکر پيکه غږ راغی

استاده ډګی (ډاله) خلاصه که!

موټروان په بيړه ورښکته شو

عسکر دډالي ټولې پنډې په ځير،ځير وکتلې بيرته سورلۍ ته راوګرځيد له هريو يې جلا جلا پوښتنه وکړه د مخې څوکی سره عمر ته ودريد تندی يې سره کش کړ او وې پوښتل:

هلکه له کوم ځايه راغلې؟

عمر لنډ ځواب ورکړ

له غلګۍ

ـ تذکره لرې

ده په جيبونو لاس ننه ويست واخطا شو لياړې يې بندې شوې

نه ولا! کور رانه پاتې ده

د عسکر تندی تريو شو

د کوم ځای يې؟

لهجه خو دې بدله ده

عمر مړاوي وروکتل

د وردګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر وخندید

ښه! یې د وردګو او راغلې له غلګۍ نه

عجبه ده

دروازه یې خلاصه کړه ده  ته یې د ښکته کیدو اشاره وکړه

عمر زیږ زبیښلی د عسکر ترمخ ودرید

عسکر یې پوره تالاشي واخیسته جیبونه یې څو وارې وکتل

بیا یې لنډې پوښتنې پیل کړې

څه کار کوې؟

عمر وویل:

پوهنتون وایم

ـ چیرته؟

ـ په خوست کې

عسکر لاس ور وړاندې کړ

کارټ لرې؟

عمر ژر جیب ته لاس کړ کوچینی کارټ یې عسکر ته ونیو

ها دادی

عسکر کارټ مخ او څټ واړوه وې پوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم دې څه دی؟

- عمر

- ولد؟

عبدالرحيم

کارټ يې بيرته ورکړ او وې پوښتل:

غلګۍ کې دې څه کول؟

عمر په تندي لاس راتير کړ

هلته مې خپلوان دي د مړي د جنازې مراسمو ته ورغلی وم

عسکر وخندل

ولې بې له تا نور څوک نه وو چې جنازې ته ورغلي وی؟

عمر سوړ اسويلی وويست

نه ! پلار مې مړ دی ، ورونه مې مساپر دي اوس يوازې زه د کور سرپرست يم

عسکر په اوږه وار ورکړ

سمه ده! درځه ولاړ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

مازدیګر وو د لمر سترګه په مخامخ غره راڅوړنده وه موټر په یوه تنګه کوڅه ننووت غالمغال وو موټر د یوې چوترې لاندې ودرید موټروان عمر ته وکتل په خندا یې وویل:

دا یې خوست!

بیا یې وپوښتل

دلته څوک لرې؟

عمر شاوخوا وکتل ډول ډول موټر په لوی سرای کې ولاړ وو موسک شو موټروان ته یې مخ ور واړوه

هو استاده ګله ! دلته پوهنتون کې مې د اکا زوی دی هغه ته ورځم

موټروان د خدای پامانۍ په ډول لاس ورته ونیو

ښه ډیر ښه ! درځه چې ناوخته کیږي

عمر بیک او چانته غاړې ته واچول لوی سړک ته وه ووت ګڼه ګوڼه ډیره وه مخامخ لاړ د تره زوی ته یې زنګ وکړ هغه د کوټې آدرس ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر خوشاله وو خوست کې بلد وو څو وارې دلته راغلی وو د اکا د زوی کوټه یې آسانه پیدا کړه د یو دنګ ټاور تر مخ څو شیبې تم شو شیبه وروسته یې د اکا زوی ته غیږه ورکړه دواړه پاس وختل په تنګو زینو کې څو ځایه  د اکازوی له شناخته ملګرو سره ودرید.

په دریم پوړ کې یې د اکازوی د یوې کوټې په وره کې کیلي ننه ویسته دواړه مخامخ بالښت ته وغځیدل.

د اکا زوی یې چې الهام نومیده چایجوش ور واخیسته او له کوټې ووت عمر شاوخوا سترګې وغړولې په تاخچه کې ایښي کتابونه او چپتر یې تر نظر تیر کړل یو کتاب یې ورواخیست مخ او څټ یې واړوه خوند یې ورکړ پرې لیکل شوي وو.

فکري پوهنه!

لیکوال: عبدالهادي مجاهد!

څو پاڼې یې واړولې کتاب خوندور وو الهام له چایجوش سره راننوت ویې خندل

ښه عمر ګله ! غورې وکه څه حال وو کلي کور کې؟

عمر کتاب پخپل ځای کیښود

(c) ketabton.com: The Digital Library



کراري وه ياره نوي څه نه وو ټول خپلوان جوړ تيار وو

الهام خوشاله وو ډير وخت کور ته نه وو تللی خوله يې له خوشالۍ نه راټوليده په مسکا يې وويل:

په لارو څه کيسې وې پازاب شوی خو به نه وې؟

عمر سوړ اسويلی وويست

د لارو خبره مه کوه لکه په پل صراط داسې راتير شوم

د الهام تندی ګونځې شو

ولې؟

عمر ترخه مسکا وکړه

ستو  کنډو ته نارسيده يې دومره منډې راباندې وکړې چې مه يې کوه پوښتنه

الهام يې ګړندی ترخڼګ کښيناست ته به وايې  د کلونو مسافر کيسه اوري.

ښه ! پوره کيسه يې وکه

عمر مکمله کيسه ورته تيره کړه د الهام خوله له حيرانۍ وازه پاتې وه سر يې په منفي ښه وخوځوه سپکې سپورې يې وکړې بيرته له ځايه پاڅيد چايجوش ته يې چای ور واچوه

يو ناڅاپه يې وپوښتل:

ولې؟ کارت ، تذکره دې نه وو راوړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر وخندید د پوهنتون کارټ یې له جیبه راوویست

ستا دا جوړ کړي کارټ کار وکړ کنه د انګورو په تول کې تللی وم.

دواړو په زوره وخندل.

(۵)

سهار وختي عمر او الهام د میرانشاه په اډه کې ولاړ ول یو غټ پکول والاموټروان موټر رامخته کړ الهام له مخامخ دوکانه څو بیسکیټ او انرژۍ راواخیستې او د عمر په بیک کې یې واچولې ده او الهام خدای پاماني سره وکړه په یوه شیبه کې موټر له اډې وه ووت تر یوه ځایه په تنګو کوڅو کې لاړ بیا یوه پراخه پاخه سړک ته وه ووت عمر شاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل لوړې ونې او شنه پټي په تيزی تيريدل موټروان ټيپ ته فلش وردننه کړ د موټر ټوله فضا خوستی سندرو او ساز ونيوه ده ګوشکی له جيبه راوويستې غوږونه يې د تلاوت سپيڅلي غږ ولړزول.

موټر په تيزئ روان وو کلي او کورونه ورو ورو کميدل د سړک ترڅنګ هرځای د سيل اوبو راوړې لويې ډبرې نيغې ولاړې وې.

عمر مبايل له جيبه راوويست د کوچيانو له رواني رمې يې څو انځورونه وويستل له څه کم يو يونيم ساعت مزل وروسته موټر د باډر په دروازه وردننووت موټروان د سړک په سر ايښې غرفې ته کوچينی کتابچه ورکړه ولاړ عسکر سپکه تالاشي واخيسته.

موټروان د اوبو ډک بوتل عمر ته ونيو

ونيسه اوبه!

ده د اوبو بوتل ورواخيست

بوتل يې په سر واړوه تندی يې وغوړيد اوبه يخې وې د خوست هوا لا هم ګرمه وه بوتل يې بيرته موټروان ته ورکړ موټروان ده ته حيران وکتل او وې پوښتل:

چيرته ځې ځوانه؟

عمر له بنې غوږ ګوشکي خطا کړه

- ميرانشاه ته!

هلته دې خپلوان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو د ماما کور مې هلته دی.

موټروان د هو په بڼه سر وخوځوه.

-ټیک ده

هلته بلد یې کنه؟

عمر مړاوي وروکتل

هو! پخوا موږ هم هلته اوسیدو

موټروان ځنګ ته ودرید موټر وښورید دی بیرته ژر موټر ته راوخوت وستمید د چا له پوښتنې پرته یې وویل:

د موټر د ټایرو هوا مې وکتله ماویل پنچر نشی

کوچینی ماشوم وچونګید د شا لخوا دډ نارینه غږ راغی.

استاده ! که دوکان مخې ته راغی یو څو بسکیټ راواخله چې ماشوم مو وږی دی

موټروان په پاس هنداره کې ور وکتل

سیی ده حاجي ګله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶)

قضا مازدیګر وو عمر په تنګه شیله کې ګړندی روان وو مبایل یې له جیبه راوویست تندی یې ګونځې شو د افغانستان سیمکارت انتن نه ورکاوه بیرته یې په جیب ننه ویست پورته یې وکتل د ډرون الوتکې خپ غږ وارخطا کړ غوږ یې ونیو د الوتکې غږ د شمال لور ته وو یو ځای یې د اوبو شنهاری تر غوږ شو تنګې شیلې ته ور وګرځید رښې اوبه په تور کمره کې لاندې رالویدې بیک ،چانټه او څادر یې په کوچیني بوټې کیښودل لستوڼي یې بډ وهل ژر ژر یې اودس تازه کړ غوږ یې ونیو لرې د یو موټر غرا خته خوشاله شو په شګلن خوړ کې ډاټسن ډوله موټر دده په لور را روان وو ده یې مخې ته ورمنډه کړه موټر ځای په ځای ودرید درې وارخطا کسان ترې راښکته شول عمر ته یې حیران حیران کتل عمر لاس ورکړ ځان یې ورو پیژاند د ولاړو کسانو له منځه یو غږ کړل.

ځوانه! موټر ته خیره نورې کیسې به هلته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د شا سیټ ته وخوت

موټر حرکت وکړ لاره ډیره خرابه وه د مخي له سیټ نوراني ځوان مخ راواړوه خوله یې له خندا نه راټولیده په خوږه مسکا یې عمر ته وویل:

پخیر راغلې قاري صاحب مبارکه!

سفر پخیر وو؟

ده  په ګنه ږیره لاس راتیر کړ

- الحمدالله بیخي ښه وو

ناست کس وموسید

پازاب شوی خو به حتماً وې ، لارې ډیرې خرابې دي ملګري په سختۍ رارسیږي

عمر لنډه مسکا وکړه

نه ان شاالله کوم لوی مشکل نه وو ډیر ښه راورسیدم

ناست کس ته بنډار خوند ورکړ پوښتنې یې را کتار کړې.

له کابله راغلې؟

- نه سیده له وردګو راغلم

- څو ساعته لاره ده؟

عمر اوږده ساه وویسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېړ اوه ساعته کيږي خو ما د لارې د خرابوالي له وجې يوه شپه پکتيا کې وکړه.

ناست کس په اوږده ږيره لاس راتير کړ

جزاک الله ! متعال رب (ج) دې دا تکليفونه درته قبول کړي.

کرږ شو موټر ناڅاپه بريک ونيو ګيدړې د موټر تر مخ تيزه منډه واخيسته مخامخ په کوچنيو بوټو کې پناه شوه.

موټر کابو نيم سات مزل وکړ باالاخره تياره ماښآم مرکز ته ورسيد ، د مرکز درې څلور کوټې په لرې فاصلو سره ولاړې وې موټر د يوې ګوښې کوټې تر مخ ودريد.

له شاتينی څوکی يو کس عمر مخامخ کوټې ته ورووست ده ور پرانيست درې څلور کسه ناست ول له کوټې لکه د عطرو بوی جګيده عمر سلام واچوه ناستو ځوانانو ځای ورته پريښود ده يو بالښت ته ډډه ووهله د کوټې په بر کونج کې يو ځوان په لمانځه ولاړ وو ټول لکه د مني پاڼه رپيده سجده يې دومره اوږده کړه تا به ويل ساه يې وخته يو تنکی ځوان ترموز او ګيلاس راوړل ده ته يې ګيلاس له چايو ډک کړ ټولو ځانونه ورو‌پيژندل.

د عمر تر څنګ ناست تنکی ځوان حذيفه نوميده دی د لوګر وو ورپسی بل کس طلحه وو ده خپله سيمه شاجوی ياده کړه ، شاجوی د غزني او کلات ترمنځ سيمه ده په لمانځه ولاړ کس د کابل د موسهی وو ټول خوشاله ول چې يو بل ملګری يې را زيات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷)

هوا خړه وه په لوړو غرو وریځې راځوړندې وې د باران د کیدو امکان زیات وو د مرکز قومندان موټر ته وخوت ورسره بل موټر کې استشهادی مجاهدین په وسلو سمبال سپاره شول عمر خوښ وو په دا یوه اونۍ کې یې نوي تکتیکونه زده کړي وو د مرکز له ډیرو مجاهدینو سره اشنا شوی وو څنګ ته ناست حذیفه یی د لرګي تسبې دده له لاسه کش کړې په خندا یی وویل:

ته راکه څومره ښایسته تسبی دی پیدا کړي

عمر وخندید

دا می د مور دلاس نښنه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



حذیفه تسبی په لاسونو کی واړولی بیرته یی ده ته ونیوی

ها! واخله

عمر مسک شو

ـ واخله ستا دی وي

حذیفه یی لاس بیرته ټیله کړ

نه یاره! که دی بل چا د لاس نښه وای بیا می نه درپریښودی

دواړو په زوره وخندل.

موټر په سختو پیچومو د تمرین ځای ته ورسید چوپه چوپتیا وه د ټولو ناستو فدایانو خولی په اذکارو بوختی وی په مخامخ غونډۍ پرونی ولاړې نښې همغسی سورۍ سورۍ ولاړې وې.

فدایانو د تمرین لپاره ځانونه تیار کړل د قومندان له یو غږ سره ټول کتار ودریدل د الله اکبر نارې په ټوله شیله کی انګازه وکړه ټول مخته او شاته ولاړل ټکان شول له مخامخ ولاړو نښو او غونډۍ مرې دوړی پورته شوی د فقیرمحمد درویش په غږ له جذبو ډکو ترانو ټوله دره په سر اخیستی وه د فدایانو له بدنه مرې خولې روانی وی مجاهدینو تر مازدیګره تمرینونه وکړل.

هره ورځ تمرین او د غرمې لخوا د لمانځه او ډوډۍ لپاره دوه ساعته دمه د هری ورځی کار وو عمراو ورسره ملګری لکه اوسپنیز سپرینګ داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چست او چالاک شول دلته ټوله مهربانی له متعال رب (ج) سره مینه او خواخوږي راټوکیدلې وه ټول ملګری لکه یو تن او وجود داسی وو له یو بل سره مینه یی له ورونو هم لوړه وه یوه ورځ د تمرین په مهال د عمر پښه لږ خوږ شوه پدې ورځ موټر هم نه وو عمر ډیر پاڅاب وو ځو چی موټر رارسیده ملګرو یی په اوږو تر مرکزه یووړ یانې ددوی ټول کړه وړه لکه د ورونو داسی وو.

سهار وختي به د لمانځه لپاره چی کله جومات ته لاړل بیا به نو د چایو تر وخته د قرآنکریم ژباړی او تفسیر ته ناست ول له ټول مرکزه د عطرو غوندی بوی جګیده.

شپی او ورځی تیریدی د عمر د کور او کلی یادونه نور له مغزو مړاوي کیدل نور یې ټول فکر او سوچ تمرین ، عبادت او د الله (ج) سره کړیو وعدو ته وو رنګ یی ورځ په ورځ تازه کیده مخ یی لکه کورکمن تک ژیړ اوښتی وو د شپی به یی خواږه ،خواږه خوبونه لیدل کله په ګلانو کی ناست او کله هم د رڼو اوبو او سپینو جامو واله ښایسته پیغلو سره ناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه شپه وه عمر په اړخ واوښت غوږ یې ونیو د نری ژړا غږ جګیده سر یې راپورته کړ حذیفه په بستره کې ناست وو وړې ، وړې سلګۍ یې کولې سر یې په زنګنو ایښی وو عمر له ځایه پاڅید د اوبو ترموز ته وروګرځید ډک ګیلاس یې په سر واړوه وروسته حیران د حذیفه سرته ودرید حذیفه سر راپورته کړ دده په لیدو یې سترګې پاکې کړې عمر یې ترڅنګ کښیناست په اوږه یې لاس ورکیښود په خواشینی غږ یې وویل:

- ښه یې؟

حذیفه د هو په ښه سر وخوځوه

عمرهغه ځان ته رانږدې کړ

نو څه شوي وروروجانه؟

حذیفه بیا ژړا ونیو ښه ډیر یې وژړل وروسته یې وویل:

خوب مې لید!

عمر یې اوښکې ورپاکې کړې

خیر ده ځان کنټرول که

د حذیفه سر یې په خپل ټټر پورې کلک ونیو دواړو تر ډیره یو بل جوخت نیولي وو عمر هم خفه وو د حذیفه نن وروستی شپه وه سبا خپل منزل ته روانیده د عمر له څه ویلو پرته حذیفه شونډې پرانیستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجبه خوب وو لالا!

عمر لنډه مسکا وکړه

خدای (ج) دې یې د خیر کوي مه وارخطا کیږه

حذیفه مسک شو سپین غاښونه یې د سپوږمۍ رڼا ته وبریښیدل

نه وروره ! د وارخطایۍ خوب نه وو د خوشالۍ خوب وو بیا یې یو دم وویل:

ښه زړه مې پرې یخ کړ

عمر وخندید حذیفه ته یې په اوږه وار ورکړ

ووایه کنه یاره زما د هم ورته سودا کړه

حذیفه ګلابي شونډې سره وروستې.

خوب مې لید ، خوب مې لید چې یوه لویه دښته وي له کړکۍ یې پاس آسمان ته  وکتل سپوږمۍ هم فکر کوم د ځوارلسم وه شاو خوا مې ښه له ورایه لیدل هر څه مې صحي کولی شو ویې خندل او زیاته یې کړه.

په یو لوی هډور آس سپور وم شاوخوا مې سرو جامو واله لښکرې تاوې وې ټوله ساحه یې محاصره کړې وې د وتو لاره نه وې زه هم په منځ کې ایسارګرځم را ګرځم دوی رانږدې کیدی نشي کله چې په ما حمله راوړي زه توره راوباسم یو کتار ټول یوې خواته ړنګ کړم ددوی بریدونه زیات شي پورته وګورم له آسمانه یوه سپینه لمبه راشي ټوله ډله لکه اور ته چې خاشاک ورواچوې لواړه تیره کړي همدې وخت کې راویښ شوم سترې وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړا راغله وارخطا وم دا زما وروستۍ شپه او دا خوب خدایزده مانا یې څه وي ؟

عمر کلکه غیږه ورکړه وخندید

مه وارخطا کیږه ، په دښمن دې بریالی کیږې ان شاالله خپل مقصد ته به رسیږی زه باور دربانديې لرم.

حذیفه فاتحانه مسکا وکړه ، له ځایه پاڅید په پاس تاخچه کې ایښی قرآنکریم یې راواخیست څو ځل یې ښکل کړ په سینه پورې یې ټینګ ونیو سترګې یې د آسمان په لور ونیوې په سلګو کې یی دعا وکړه.

یا پاکه ربه(ج)!

ستا له عاجز بنده سره مل شې!

دا په ګناهونو لړلی بنده دې یوازې مه پریږده.

یوازینۍ هیله او ارمان چی ستا د دین خدمت او تاته رسیدل دي په پوره کیدو کې یې مرسته ورسره وکړه...

حذیفه اوږده دعا وکړه عمر هم دواړه لاسونه لپه کړي وو یوازې آمین یې له خولې راووت او د حذیفه له ژړا سره به دده هم په لیمو اوښکې را ورغړیدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹)

د سهارني لمر ژیړی وړانګی په لوړو غرونو را پرتې وې هوا دومره صافه وه چی د لوړ غره په سر دې وران څلی ښه پوره لیدلی شوای په مرکز کی چوپه چوپتیا وه عمر د نښتر ونې لاندی ولاړ وو په مرکز کی څه زیات شوی نه وو یواځی د راوتلی تنګی شیلی په خوله کی مازدا ډوله موټر نوی ورښکاره.

شو شور ماشور شو عمر وروکتل د مرکز د دویمی کوټې نه ډله خلک راووتل څوتنه د مرکز ملګری یی وپیژندل دوه دری کسان نوي ورښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول قوماندان یی ترمخ ګړندی روان وو مازدا ډوله موټر ته ودریدل عمر نږدی ورغی نویو راغلو میلمنو ته یی لاس ورکړ  نویو کسانو بیګونه غاړو ته اچولی وو لویی پروفیشنل کیمری ورسره وی رنګون یی تازه وو داسی مالومیده لکه له کوم ښاره چی راغلی وی عمر حیران وو څوکسانو په شاوخوا ونو کی سپین بیرغونه راځوړندول ځینو په ولاړو لرګیو تابلوګانی ټینګولی داسی ترتیبات نیول کیدل تابه ویل د کوم لوی جشن ورځ را روانه ده د مرکز د کوټو تر مخ کتار ولاړ بیرغونه باد یوی خواته رپول.

مخامخ یی وکتل حذیفه له ختین حمامه را وه ووت داسی سپین بریښیده تابه ویل په کلونو یی لمر په سترګو ندی لیدلی سپینی جامی یی په تن وی ته وا د واده  ورځ یی ده ټولو ولاړو کسانو خوشاله وروکتل حذیفه را وګرځید سلام یی واچوه ولاړو کسانو ټینګی غیږی ورکړی د عطرو بوی یی په سیږمو داسی خوږ لګیده لکه د پسرلنی موسم  د تازه غوړیدلو ګلانو کومه لویه دښته کی چی روان وې حذیفه عمر له لاسه ونیو په خندا یی وویل:

راشه لږ کار می درسره ده!

دواړه د مرکز د کوټو شاته د روانو اوبو د لښتی تر څنګ په یوه لویه ډبره کښیناستل عمر په حیرانی حذیفه ته کتل تر اوسه یی په دومره تازه او ښایسته څیره کی نه وو لیدلی هیڅ یی په دیدن نه مړیده دواړو په ځیر یو بل ته کتل هیڅ یی نه ویل په وروستیو کی حذیفه چوپتیا ماته کړه او په مسکا یی وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګه په خیر راته ګورې؟

عمر یی لاس په لاس کی ونیو

پوهیږې! درویشت کاله مې عمردی تراوسه مې دومره ژور چاته نه وو کتلي خدایزده نن دې ښنګه په دیدن نه مړیږم.

حذیفه وخندید د ټوکو په ډول یې وویل:

خیر ده له نن وروسته به مې ارمان وکړې

د عمر تندی ګونځې شو تابه ویل د دنیا تر ټولو بد خبر یې واورید سوړ اسویلی یې وویست سر یې  د افسوس په بڼه وښوروه او زیاته یې کړه.

هو ولا! ستا جدایي به راته دومره سخته تمامه شي لکه په  عمري بند محکوم بندي ته .

بیا یې د ډاډ لپاره د حذیفه په اوږه لاس ورکیښود.

خو خوشاله دیته یم چې خپل هدف ته رسیږې او له رحیم ذات سره کړې وعده دې پوره کیږي خو ځان ته وارخطا یم.

حذیفه حیران وروکتل

ولې؟

خدای مه کړه

عمر مړاوې سترګې ور واړولې د خواست په ژبه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا وکړه چې زه هم یوه ورځ ستا غوندې جامې واغوندم او نوبت مې را ورسیږی.

حذیفه په اوږه وار ورکړ خندا یې وکړه

خدای (ج) دې درسره وکړي خو دلته نوبت نشته خبره ستا په چالاکۍ او د تکتیکونو په ژر زده والي کې ده هرڅومره چې ژر تکتیک زده کړې او قوماندان ځای درته مناسب وبولي هماغه ورځ دې نوبت دی.

دواړو فاتحانه مسکا وکړه

د کوټو له شا طلحه دواړو ته زوروره ناره وکړه دواړو ته یې د ورتګ اشاره وکړه.

- راځئ ملګري تیار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

د مرکز ملګري کتار ولاړ وو ټولو په تنديو په کليمه پوښل شوې سپينې جنډې تړلې وې مازدا ډوله موټر د مرکز د کوټو ترمخ ولاړ وو مخه يې ښکته خواته وه نويو راغلو کسانو غټې کيمرې په درې پايېز چوکاټ بندولې د برې کوټې په بام په لوډسپيکر کې په لوړ غږ ترانه چالانه وه قوماندان خوشاله وو هر ملګري ته يې په خوشالۍ کتل ماته يې د ورتګ اشاره وکړه ورغلم او د طلحه څنګ ته نيغ ودريدم.

قوماندان خپل موټر ته وروګرځيد يوه غيږ ګلان يې راواخيستل ما ورمنډه کړه نيمايي يې ماته راکړل په ملګرو د ويشلو اشاره يې راته وکړه له ښي لوري مې پيل وکړ هر ولاړ ملګري ته مې دوه ، دوه ګلان ورکړل سږا شوه پورته مې وکتل ډرون ډوله کيمره مې په سر ولاړه وه لرې ولاړ کس ډرون کيمرې ته غټ ريموټ نيولی وو يو خوا بل خوا يې خوځوه کيمره به کله لوړه شوه په پورته ولاړو غونډيو به را وګرځيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان مخامخ اشاره وکړه حذیفه د ولاړو موټرو له منځه را وه ووت نظامي جامې یې په تن وې خوله یې له خندا نه ورټولیده کتار ملګرو ته ور وګرځید کیمرې والا وو یوې او بلې خواته منډې وهلې تا به ویل کوم لوی پاچا سیمې ته راغلی دی دم په دم یې انځورونه او فلمونه ترې اخیستل هر ملګري حذیفه ته ټینګه غیږه ورکوله او ګلان یې غاړې ته وراچول.

حذیفه ماته ودرید ټینګه غاړه مې ورکړه یو بل مو ترډیره په غیږ کې نیولي وو د خوشالۍ او خدای پامانۍ اوښکې مو ګډې په سترګو را روانې وې دی مې هیڅ له غیږې جلا کولی نشو او ده هم زما غاړه ټینګه نیولې وه یو ناڅاپه مې د الله اکبر زوروره ناره له خولې ووته ولاړو ملګرو راسره بدرګه کړه او په شیله کې یې څو پرلپسې انګازې خورې شوې حذیفه مې ولي کلک ونیول سترګې یې راسره وجنګولې او یوازې یې دومره له خولې ووتل

حق دې راته وبخښه!

زما اوښکې نه تم کیدې په دا درویشت کلونو کې مې دومره ژور نه وو ژړلي یو دم مسک شوم د هغه په ولیو مې زور راووست.

ځه ! الله دې مل شه خپل ایماني هدف ته پخیر ورسیږې

په لاوډسپیکر کې چالانې ترانې بیا بیل خوند درلود

- ساتو یې په سرو وینو دا د باتورانو کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا د شهیدانو کور ، دا د شهیدانو کور....

حذیفه د وروستي کس قومندان مخ ته ودرېد قومندان په غېږ کې کلک ونیو په تندي یې داسې ټینګ ښکل کړ تا به ویل د کلونو مسافر زوی د خوږې مور مخ ته ولاړ دی ګلان یې غاړې ته ور واچول تر اوږو یې کلک ونیو په خندا یې وویل:

- څه ورځه په مخه دې ښه ! خپل هدف ته پخیر ورسیږې

- ستا مظلوم اولس به ستا قربانۍ هیڅ کله هیرې نکړي

- موږ خوشاله یو چې ستا غوندې ځوانان لرو ددې هیواد او د شهیدانو ارمانونه ستاسو پورې تړلي دي...

له اوږدو خبرو وروسته حذیفه مازدا ډوله موټر ته ور وخوت کیمرې والا تر موټر ګرد راچاپیر شول ډرون کیمره هم د ولاړو خلکو په سر ودریده حذیفه موټر ته حرکت ورکړ او د خدای پامانۍ په ډول یې دواړه لاسونه پورته کړل ولاړو کسانو هم یوپه بل پسې لاسونه وخوځول سیمه یو ځل بیا د الله اکبر زورورو نارو په سر واخیسته.

(۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې ورځې ووتې حذيفه مې هيڅ له سترګو نه ووت يوه غرمه د قوماندان کوټې ته ورغلم موږ ملګرو ته د انټرنيټ او مبايل کارولو اجازه نه وه قومندان په کوټه کې تلويزيون او انټرنيت درلود دی خوشاله وو خوله يې له خندا نه راټوليده په خبرونو کې يې د خوست په کمپاين د بريد خبر ونيو خبرېال وويل چې ځانمرګي بريدګر د امريکايي ځواکونو ډله موټران په نښه کړي او زيات تلفات يې ور اړولي دي.

د اسلامي امارت وياند يې پړه په غاړه اخيستې وه او بريدګر يې د حذيفه په نوم د لوګر د سيمې ياد کړ او تر پنځوسو ډيرو امريکايي ځواکونو د وژلو ادعا يې کړې وه د حذيفه د نوم په اوريدو مې له خوشالۍ اوښکې په اننګو راغلې او له خولې مې د تقبله الله کلمه ووته.

قومندان مبايل زما مخ ته ونيو

ته وګوره ياره ! ټول فسبوک د حذيفه مجاهد انځورونو ښکلی کړی دی

مبايل مې ترينه واخيست د حذيفه هر ملګري او خپلوان دده کارنامې او يادونه بيان کړي وو او دده د شهادت مبارکيانې په هر لور خپرې وې چا يې له څنګه د زمري انځور ايښی وو چا هم په سپين بيرغ پوښلی وو.

مبايل مې قومندان ته بيرته ورکړ هغه له جيبه کوچنۍ کتابچه راوويسته شميره يې ترينه ونيوله غاړه يې تازه کړه له هغې خوا ډډ نارينه غږ راغی.

- هلو سلام عليکم

قومندان غاړه تازه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعلیکم والسلام ورحمت الله

حاجي ميانداد صيب ښه يې

کور دې خيرتي ده

مقابل لوري غوږ ونيو او وې پوښتل:

څوک يې وروره؟

قوماندان په رنګړی ږيره لاس را تير کړ

حاجي صاحب ما له ميرانشاه زنګ وهلی د حذيفه ملګری يم.

د مبايل اړيکه يو دم پرې شوه قومندان له ځايه پاڅيد فکر کوم انتن کمزوری وو مبايل يې بيا ور اوکې کړ له هغه خوا بيا نارينه غږ راغی دا ځل غږ يو څه صاف وو بيا يې سلام واچوه قومندان غاړه تازه کړه.

وعلیکم والسلام

ښه يې حاجي صاحب!

د هغه له پوښتنې مخکې يې وويل :

زه د حذيفه ملګری يم له ميرانشاه مې زنګ درته کړی

د مقابل لوري غږ ګډوډ شو لکه له خبرو چې ولويږی بيا يې غاړه تازه کړه او زياته يې کړه

ښه ډير ښه! حذيفه به کله کله پدې شميره زنګ راکوه د بوډا ژړا زور ونيو په ژړا کې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خو شهید شو!

قومندان یوه شیبه بې ځوابه شو لکه له خبرو چې ولویږی بیا یې بندې خبرې وکړې.

هو حاجي صاحب ! د زوی شهادت دې مبارک شه

د ډاډ لپاره یې څو توري ولټول او زیاته یې کړه:

هغه ډیر غیرتي او په اسلام مین ځوان وو او خپل سپیڅلي هدف ته د متعال رب (ج) په مرسته ورسید موږ ټول ملګري د هغه په صداقت ، ایمانداری او ټینګ ایمان ګواهي ورکوو...

قومندان اوږدې خبرې وکړې مقابل لوري یواځې غوږ نیولی وو اف یې له خولې نه راووت یواځې د سلګیو غږ یې صاف اوریدل کیده

په مبایل کې ښځینه غږ راغی

- څوک دی؟

د بوډا خبرې ورسره ګډې شوې ښځینه غږ ورک شو

د قوماندان له خبرو وروسته د حذیفه پلار غاړه تازه کړه خپله غریبي او د زوی سره مینه یې یاده کړه د هغه د ټینګ ایمان په زړه پورې کیسې یې وکړې په وروستیو کې یې وویل چې د حذیفه مور درسره دوې خبرې کوي.

قومندان ځان ټینګ کړ د حذیفه زړې مورکۍ خبرو ته ځان جوړ کړ خو ژړا خبرو ته پرینښوده ښه پریمانه یې وژړل قومندان هم څادر سترګو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيو تر پنځو دقيقو زما په شمول د هيچا له خولې اف نه ووت په مبايل او زموږ کوټه کې يوازې د ژړا او سلګيو غږ پورته کيده.

له اوږدې ژړا وروسته د حذيفه مور په خبرو راغله او قومندان ته يې په خپ غږ وويل:

خير يوسې زوی جانه ! زما د زړه ټوټه حذيفه له تاسو ډير خوشاله وو هر وخت به يې چې زنګ را وکړ د ملګرو او قومندان په صفت نه مړيده زما له زوی سره مو ډير تکليفونه ايستلي وو خدای(ج) مو هغه دنيا سمه کړه.

د حذيفه مور ډيرې دعاوې وکړې قومندان هم د زړه تسلي ورکړه او د هر رنګه مرستې ډاډ يې ورکړ.

(۱۲)

شپې او ورځې تيريدې مرکز ته هره ورځ نوي ملګري راتلل زموږ شمير هم ورځ په ورځ زياتيده ماهم ډير څه زده کړي وو د موټر چلول ، د نقشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې په ښارونو کې بلدتیا او ډول ، ډول نور هغه کارونه وو چې د تمرین تر څنګ موږ ته را زده کیدل.

یوه ورځ قومندان راغی زه او څلور نور ملګري یې له ډلې جلا کړو راته یې وویل چې تاسو به نور ځانګړی تمرین کوئ!

موږ د خپل تمرین تر څنګ نوو راغلو مجاهدینو ته هم تمرینات ورکول او هغه لارې چارې چې مو زده کړې وې هغوی ته ورښودلې او ددې ترڅنګ مو د اسلحې  کارونه او د موټر ور زده کول هم زموږ په غاړه وو.

موږ کابو دوې میاشتې پرلپسې تمرین وکړ زموږ په تمریناتو کې د نویو لوکسو موټرو زده کړه لکه فرونر هایلوکس او...همدارنګه د کابل ښار په مختلوفو برخو کې د نقشې له رویه بلدتیا او همدارنګه د پښتو ترڅنګ د پاړسي او انګریزي ژبو زده کړه هم شامل وو.

قومندان هم څو ورځې نه وو کور ته په چوټۍ تللی وو قومندان اصلا د خوست وو کور یې په موسی خیلو ولسوالی کې وو خو دلته میرانشاه کې له وړوکوالي را لوی شوی وو کله کله به د کورنۍ د لیدو لپاره چې ډیر وخت کیده خوست ته کډه شوې وه تلو.

یوه ورځ سهار راغی خوشاله وو زما ترڅنګ کښیناست لکه کومه خبره چې راته لري ، هماغسې وه د کابل ښار نقشه یې راوویسته زما مخ ته یې وغوړوله مهم ځایونه په سرو کرښو رنګ شوي وو د دارالامان پوښتنه یې وکړه ما د لوګر په سړک ګوته یووړه د کابل په چهار اسیاب ولسوالۍ لنډ وروګرځیدم د دارالامان په دوراهي مې ګوته ودروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان خوږه مسکا وکړه په اوږه یې وار راکړ.

- ډیر وران یې!

ما وخندل

- قومندان صاحب اوس خو مې نږدې نیم کال پوره کیږي

قومندان په ځیر راته وکتل او وې وپوښتل

ښه ډیر ښه! د کابل ریاست چیرته دی؟

ما ژر د پښتونستان واټ ته اشاره وکړه پورته ورغلم د کابل په ریاست مې ګوته کیښوده

قومندان په اوږه وار راکړ

- ماشاءالله ما خو دومره نه ګڼله

ما له چایو غوړپ وکړ او ومې پوښتل

آمرصاحب څه نوې غورې نشته؟(قومندان ته مو آمرصاحب ویل)

قومندان نقشه ټوله کړه اوږد وغزید

- نه ولا څه شی خو نشته

یو دم پخپل ځای کې نیغ راکښیناست لکه کوم نوی زیری چی راته لري مخامخ یې راته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو دې ورځو کې شايد کابل کې يوه لويه غونډه جوړه شي امريکايان او نور بهرنی قومندانان له يو بل سره جلسه لري شايد تاسو ځلور ملګري ورولېږو.

په ورانه يې وار راکړ

- دا ځل ځان تياروه

ما وخندل ،ده پيکه وويل:

خو! چاته مه وايه ځکه خبره محرمه ده تر اوسه مې چاته ندي ويلي ته لومړنی څوک وې.

(۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار وختي وو چې قومندان زموږ څلورو ملګرو د کوټې ور را وټکوه وریاخیدم قومندان ته مې لاس ورکړ ده رایاده کړه چې څلور واړه ملګري دده کوټې ته په بیړه ورشو ملګري مې له خوبه راویښ کړل شیبه وروسته څلور واړه د قومندان تر مخ ناست وو.

قومندان بیا نقشه وغوړوله په پروني نوي پلان وغږید د بهرنیانو د ناستې یې وویل چې شاید همدې اونۍ کې جوړه شي د مشرانو له لوري موږ څلور ملګري ټاکل شوي وو غونډه په کانتینینټل هوټل کې جوړیده.

کابو درې ساعته مو په پلان کار وکړ د هر ملګري نظر مو واخیست د لارو خرابوالي او هلته تګ لویه ستونزه وه خو قومندان خوشاله وو او ویل یې چې هلته یې کسان موندلي تاسې یوازې تر کابله پورې په رسیدا فکر وکړئ.

موږ ملګرو قاچاقي لارې وسنجولې د کابل تر دروازو مو په نقشه کې لاره وویسته قومندان د باندې وتلی وو په بیړه راننوت له خندا یې خوله نه ورټولیده وې خندل او وې ویل:

زه پوهیدم چې د کابل تر دروازو رسیدلي یاست هلته بند پاتې یئ.

ورستنۍ خبره یې بشپړه کړه.

خو خیر دا تشویش مه کوئ هلته مې هم کسان درته پیدا کړل.

زموږ مخونه له خوشالۍ وغوړیدل ،ده خبره وغځوله.

همدا اوس له مولوي صاحب عزیز سره وغږیدم دا زیرى یې راباندې وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مولوي عزیز زموږ د مرکز لوی مشر وو)

مولوي صاحب وویل چې موټران او وسلې مو هم په وردګو او لوګر کې درته آماده کړي لدې ځایه یې د وړلو اړتیا نشته او زیاته یې کړه.

سبا سهار به تش لاس په یو موټر ځان د کابل تر دروازو ورسوئ.

موږ څلور ملګري په جامو کې نه ځاییدو او خوشاله وو چې څومره مهم او لوی پلان ته وټاکل شوو سبا سهار د حذیفه او نورو تللیو ملګرو په نسبت موږ ته لوی ترتیبات نیول شوي وو مولوي صاحب عزیز هم راغلی وو پاکې سپینې جامې یې اغوستې وې له موږ سره ټولو ولاړو ملګرو یو په یو خدای پامانی وکړې په فیلډر ډوله موټر کې مو حرکت وکړ په خامه لارو غرمه د خوست یوې ولسوالۍ ته ورسیدو هلته مو د پلان مطابق د یو مجاهد ملګري سره ډوډۍ وخوړه د مازدیګر تر لمانځه هلته وو قضا مازدیګر مو د پکتیا وزې ځدراڼ ولسوالۍ په لوري حرکت وکړ د شپې اته بجې د وزې ځدران ولسوالۍ ته ورسیدو شپه مو هلته تیره کړه سهار له لمانځه مخکې مو له هغه ځایه حرکت وکړ بل مازدیګر د لوګر د خروار ولسوالی بازار ته ورسیدو د ولسوالۍ لوی بازار وو ګڼه ګونه ډیره وه دا ولسوالۍ په خامه لاره پرته وه دویمه شپه مو چې د شنبې وه د لوګر د څرخ ولسوالۍ ته ورسوله موږ ډیره بیړه درلوده ځکه د دوشنبې ورځ مو باید کابل کې د پلان ځای ته رسولي وای غونډه دوشنبه جوړیدله د دریمې ورځې په سهار د څرخ له لوري مو ځان د لوګر برکي برک ولسوالۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویست او له هغه ځایه د وردګو د تنګي له لوري د لوګر د مرکز پُل علم تر شا د محمد آغې ولسوالۍ ته واوښتو.

شپې ورځې مو سترې تیرې کړې ټوله لار مزل ملګري بې خوبه کړي وو له غرمې تر ماښامه مو د لوګر د محمد آغې ولسوالۍ په یو جومات کې ښه خوندور خوب وکړ ماښام مهال مو ځانونه د کابل دروازې ته ورسول هلته په یوه کرایي شوي کور کې راته نوې جامې ،پتلانونه ،دستکشې، ډول ډول عینکې او نور د اړتیا وړ مواد راکړل شول د شپې نهه بجې د کابل له دروازې تیر شوو نیمه شپه مو ځانونه د کانټینینټل هوټل ته نږدې ځای پر ځای کړل.

سهار وختي مو ځانونه پریمینځل نوي پتلانونه او جامې مو واغوستې غونډې ته څه کم دوه ساعته پاتې ول ټولو ملګرو دوه ،دوه رکعته لمونځ وکړ د قرآنکریم تلاوت مو وکړ هوټل ته له روانیدو سره سم مو له یو بل سره وروستۍ خدای پاماني وکړه.

د هوټل په لور مو حرکت وکړ په لارو کڼه ګوڼه وه هر ځای سختې تالاشۍ ولاړې وې زموږ موټر ډیر نه تالاشي کیده یوازې عسکر به مازې راوکتل د مخې په سیټ کې له ناست ږیره خریيلي ځوان سره چې د دولت کس وو وغږید او موټر به حرکت وکړ دویمه داچې زموږ موټر په تورو ښیښنو پوښلی وو.

د هوټل د دروازې له ننوتو وروسته د مخې ناست کس ښکته شو شاوخوا مو وکتل هرې خواته زرهي موټر ښه پریمانه ولاړ وو زموږ مشر چې هلته مرکز کې راته قومندان ټاکلی وو د غونډې د کوټې تر مخ ټولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناره کړه او په بیړه یې د ښکته کیدو اشاره وکړه موږ هم په بیړه لوی سالون ته د ننوتو هڅه وکړه په وره کې ولاړ عسکر مو ممانعت وکړ زموږ یو ملګري د الله اکبر له نارې سره په تندي وویشت او عسکر پړمخې ولوید د سالون د ننه غوغا شوه لوی سالون له بهرنیو نظامیانو تر سپږمو ډک وو منډې شوې د خبربالانو کیمرې او مایکونه ورغړیدل سیمه ډزو او مرمیو په سر واخیسته پښتو ، دري او انګریزي غږونه سره ګډ شول زموږ دوه ملګري دویم پوړ ته وختل له شته کسانو لاره ورکه شوه هر لورته یې ډزې کولې په جوړه غوغا کې به یوه ، یوه د الله اکبر ناره هم پورته شوه.

د باندې مو څوک نه راپرېښودل او نه هم د باندې څوک وتلی شوای یو ملګری مو یوازې راننوتي وره ته په کمین کې ناست وو چې کله به چا د وتو یا راننوتو هڅه کوله د هغو کار یې ورخلاصوه.

پوره یو یونیم ساعت مو جګړه وکړه د باندې ډیر نظامیان راورسیدل په هوا د ډول،ډول چورلکو غږ اوریدل کیده په وروستیو کې مرمۍ راخلاصې شوې شیبه وروسته سیمه څو زوروړو چاودنو او غږونو ولړزوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۴)

قومندان تلویزیون ته مخامخ پروت وو د تلویزیون چینلونه یې یو په بل پسې اړول د ټولو د خبرونو د سر ټکی په هوټل نننی برید وو د هوټل ودانۍ سرو لمبو په سر اخیستې وه له موټرو تور لوګي پورته کیدل سیمه له ګڼو امبولانسونو ډکه وه خبریال د سیمې عیني شاهدان غبرول ټول وارخطا ول برید یې ډیر زورور یاد کړ یوه کس داهم وویل چې د برید او چاودنو غبږونه یې تر څو کیلو متره لرې واوریدل.

د اسلامي امارت ویاند د برید پړه په غاړه واخیسته برید یې ډیر زورور یاد کړ ډېرو بهرنیانو اوجنرالانو ته یې د زیاتو تلفاتو د اوښتو ادعا وکړه د ویاند په خبره په برید کې سلګونه بهرني جنرالان او عسکر وژل شوي وو.

قومندان ځان وغزاوه خوشاله وو ، عمر او نور ملګري یې یو، یو سترګو ته ودریدل د هغوی پخواني یادونه یې تازه کړل د باندې وه ووت په مرکز کې کراره کراري وه هیڅوک نه مالومیدل یوازې ډادسن ډوله موټر د لویې ونې سیورې ته ولاړ وو.

پای

کابل - افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**